مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۰/۰۸/۲۴

# څه او څه



څه د وریځو توپان راغی
څه برېښنا ورنه راښکته

څه د تالندې درزا شوه
څه لوی تندر بیا راولوېد

څه ویر پرېوت زموږ پر کلي
څه عالم په کې بیا دَل شو

څه بیا وشول، څه به کېږي؟
څه ناپوه یو، څه بیوزلي

څه خواري ده راپه برخه

څه عالم مخکې روان دی
څه عالَم پړمخې لوېږي

څه به جګ او څه به لوېږي
څه به وکړو، څه به کېږي

۲۰۲۰/۰۷/۰۱
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ